# پروګـــرام کمک هـــــای کـــــوچک

شماره دوم | دار الانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات | ثور ۱۳۸٤

ادیتور : محمد یما مبتکر



# په کابل کې د وړو مرستو پروګرام د پروژو سره مالي مرستې کيږي





**د اپرېل په پنځمه نېټه،** د وړو مرستو پروګرام په همکاری د يو ځايي تلويزيون په زړه پورې پروګرام چې د "ذهنی ازموينې په نامه سره ياديږي" ترسره شو. نوموړی پروګرام د افغانستان د راديو تلويزيون د ښوونيزې څانګې له خوا عملي شو. په دې پروګرام کې پنځو سوو کسانو برخه اخيستې وه، چې ځلور برخې ئي درلودلې؛ مالوماتي، سياليزه، د عمل چټکتيا، او د کانديدانو د نومونې د مودې په اړه ئي يوه تمثيلي توټه وړاندې کړه.

**د اپرېل په ۱۷ نېټه،** د کابل ښار د خوشحال خان
مبني په پنځمه حوزه کې د وړو مرستو د پروګرام په مرسته د نجونو د دريو ښوونځيو ترمنځ د "مشاعرې سيالي" ترسره شوه. په دې پروګرام کې تقريباً ۳۰۰ زده کوونکو او د هغوی ميندو او پلارونو ګډون کړی ؤ چېرته چې د پوښتنو او ځوابونو يوه سيالي هم ترسره شوه.



**د اپرېل په ۲۳ نېټه،** د افغانستان د ښځو تعليمي ټولنې د ريشخورو په ساحه کې يوه ښځينه غونډه
ترسره کړه. په دې غونډه کې تقريباً ۱۲۰ کسانو، نارينه او ښځينه ګډون کړی ؤ. د پروګرام په اوږدوکې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر کميشنرې نجلا آيوبي د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په اړوند وينا وکړه.

**د اپرېل په ۲۷ نېټه،** د افغانستان د ليکوالانو او شاعرانو ټولنې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په مطبوعاتي تالار کې د مشاعرې يوه غونډه ترسره کړه. په دې پروګرام کې ۲۰۰ اوريدونکو ګډون کړی ؤ. افغانستان وتلو شاعرانو ته چې شعرونه ئي ويل غوږ نيولی وه او د اطلاعاتو او فرهنګ مرستيال وزير د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په هکله وينا وکړه.



**د اپرېل په ۲۹ نېټه**، د افغانستان د خپلواکې ټولنې له خوا د "ټاکنیزې خبرتیا" په نامه پروژه عملې شوه. نوموړی پروګرام د کابل ښار د دشتې برچي په حوزه کې دایر شوی ؤ. په دې پروګرام کې د ښځو په ګډون ۱۱۰۰څخه زیاتو کسانو ګډون کړی وه. ددې پروګرام په اوږدو کې د ځوانانو د تیاتر ګروپ د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو په اړوند یوه کومیډي تمثیلي ټوټه وړاندې کړه.



